د افغانستان اسلامي امارت - امارت اسلامي افغانستان

# د ټولګټو وزارت فواید عامه

رسـنيز دفـــتر

نيټه: / / ۱۴۴۴ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ټولګټو وزارت يو کلن فعاليتونه او لاسته راوړنې

ټولګټو وزارت د افغانستان د يوه سکټوري وزارت په توګه، د پراختيايي پروژو د تطبيق، د ملي، ولايتي او ولسواليو سړکونو د جوړولو او همدارنګه د سړکونو د ساتنې او څارنې په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د موخو او پاليسيو د عملي کولو مسؤوليت پر غاړه لري.

دا وزارت د افغانستان اسلامي امارت د کار له پيل څخه د هيوادوالو د ترانسپورتي ستونزو د حل او د ترانسپورتي زيربيناو د ساتنې او څارنې په موخه يو شمير پروژې د هيواد په بيلابيلو ولايتونو کې تطبيق کړې دي، چې ځينې يې دا مهال هم تر کار لاندې دي.

دغه وزارت د هيواد حالت او وضعت ته پام سره، په تېر يوه کال کې په څو مهمو او اساسي اوليتونو باندې کار کړی دی، چې د بيلګې په ډول د ځينو يادونه کوو:

د تحول او د افغانستان اسلامي امارت د بريا په لومړيو شپو او ورځو کې، ټولګټو وزارت د کابل - کندهار لويه لار د ٦٥ کيلومترو په اوږدوالی سره د ٦٩ ميليونه افغانيو په ارزښت، د قلات - شينکۍ سړک داغ ګيري او د دغه مسير د پُلګوټو ترميم د ٦ ميليونه افغانيو په ارزښت او د ٥ پايو پُلونه چې اوږدوالی يې ۱۵۵ متره دی د ۱۵ ميليونه افغانيو په ارزښت قرارداد کړې دي، چې دا مهال د يادو پروژو کار بشپړ شوی دی. د يادونې وړ ده، چې له دغو پروژو څخه په تېر کنفرانس کې هم يادونه شوې وه. همدارنګه، د کابل - ميدان ښار د ۸ کيلومتره سړک اساسي ترميم د څه باندې ۴۸ ميليونه افغانيو په ارزښت قرارداد شوی و، چې د يادې پروژې رغنيز کار هم، دا مهال بشپړ شوی دی.

### د کابل - کندهار لويه لار:

دا مهال د کابل - کندهار لويې لار ( کندهار - زابل ) د اساسي ترميم چارې، چې د هيوادوالو لپاره د خوښۍ زيرۍ دی پيل شوې او اوس مهال يې عملاً د بيارغونې کار دوام لري، همدارنګه د ټولګټو وزارت رهبري او تخنيکي ټيمونو له کورنيو او بهرنيو خصوصي ودانيزو شرکتونو سره مسلسلې غونډې تر سره کړې دي، تر څو

د کابل – کندهار لویه لار له خصوصي سکتور سره په همغږۍ د (ټول پلازا) له لارې په اساسي ډول ترمیم او بیا ورغوي.

همدارنګه، دغه وزارت لازم چمتوالی نیولی تر څو د تونل په ګډون د سالنګ ۳۰ کیلومتره لویه لار اساسي ترمیم کړي، له دې برخې به ۱۰ کیلومتره سړک چې ډیر ویجاړ شوی دی کانکریټي او پاته ۲۰ کیلومتره په اسفالټ ډول بیاورغوي. د دغه پلان د تطبیق لپاره له څنګ لوریو ولایتونو څخه ټول وسیال، ماشینري او امکانات سالنګ ته لیږدول شوې دي.

دغه راز په تېر یوه کال کې په ټولو ولایتونو کې هغه سړکونه، پلونه او پلګوټي ترمیم شوې او ساتنه او څارنه ترې شوې، چې د نه پاملرنې په حالت کې د بشپړ ویجاړیدو له خطر سره مخ وو.

## سروې او ډیزاین:

ټولګټو وزارت توانیدلی، چې د بیارغونې د ترسره شویو کارونو تر څنګ، د (۲۰۵) کیلومتره ویجاړ سړک او د (۴۱۰۰) مترو په اوږدوالي سره د (۵۸۳) ویجاړو پُلګوټو ترمیماتي سروې تر سره کړي همدارنګه (۱۸۴) پایې پُلګوټي چې اوږدوالی یې (۳۱۲۸) متره کیږي او (٦۱۰) متره استنادي دیوالونه نوې سروې او ډیزاین شوې دي.

## ترمیم، داغګیري او د نویو سړکونو احداث/جوړول:

ټولګټو وزارت سره له دې چې کافي اندازه بودیجه په اختیار کې نه و، خو بیا هم دې سربیره توانیدلی، چې د قراردادي شرکتونو او د وزارت د ولایتي ریاستونو اړوند ماشینرۍ او تخنیکي پرسونل پرمټ د (٦۲) میلیونه افغانیو په ارزښت د هیواد په ډیری ولایتونو کې (۱۸۳۱) کیلومتره سړک، (۱۰۰۰) متره پل، (۴۰۴) متره استحکامي پل، (۱۱۴۲) کیلومتره د سړک پاک کاري او (۱۱۴۷) متره استنادي دیوال ترمیم، نصب او له سره بیا ورغوي.

## د واورو پاکول:

ټولګټو وزارت تېر کال په ۳۴ ولایتونو کې ۱۲۵۴۸ کیلومتره سړک د واورې او د سیلابونو له رسوبي موادو څخه د پاک کاري په پلان کې شامل کړې و، چې له دې ډلې په غزني، بامیان، غور، دایکندي، بدخشان، بلخ، تخار او پنجشیر ولایتونو کې ۱۸۷۴ کیلومتره سړک د( ۴۰,۰۰۸,۲۰۰ ) څلویښت میلیونه اته زره او دوه سوه افغانیو په ارزښت له خصوصي دانیزو شرکتونو سره قرارداد شوی و او پاته برخه یې د وزارت د ولایتي ریاستونو د اړوند ماشینرۍ او تخنیکي پرسونل لخوا پاک کاري شوې دي.

## تلې:

همدارنګه، د افغانستان اسلامي امارت د ټولګټو وزارت نه یواځې د لویو لارو، سړکونو، پلونو او پلګوټو د ترمیم او بیارغونې په برخه کې فعالیت کړی دی؛ بلکې دا وزارت توانېدلی، چې د لوړ تناژ باروړونکي موټر کنترول او په ځینو ولایتونو کې نوې تلې فعالې کړي. وړاندې په ټول هیواد کې ۱۸ پایې تلې فعالې وې، چې د اسلامي امارت له حاکمیت ورسته د دغه وزارت په هڅو ۳۲ پایې نورې تلې د هیواد په ۱۷ ولایتونو کې فعالې شوې. همدارنګه د ۱۴۰۱ کال په تشکیل کې، په ټول هیواد کې ۵۳ تلې په پام کې نیول شوې دي، چې له دې ډلې اوس مهال ۳۲ تلې فعالې دي، ۴ تلې د نصبولو په حال کې دي او د ۱۷ تلو خریداري په تدارکاتي پړاونو کې قرار لري چې ډېر ژر به واخیستل شي.

## تخریبات:

د یادونې وړ ده، چې د ژمي په موسم کې د موسمي سیلابونو له کبله شاوخوا (۲۹) کیلومتره سړک، (۲۱۰) متره پُلونه، (٦۹) پایې پلګوټې، (۱۵۹۵) متره معبر او (۸۷۵۸) متره استنادي دیوال ( سنګ کاري، ګبیون او کانکریټ) د هیواد په ډیری ولایتونو کې تخریب شوې دي، چې د بیارغونې او ترمیم لپاره شاوخوا (۴۰۳,۱۷٦,۵۴۸) څلور سوه او دری میلیونه یو لک شپږ اویا زره او ۵۴۸ افغانۍ بودیجې ته اړتیا لري، چې په دغه برخه کې د مالیې وزارت لخوا ټولګټو وزارت ته ۲۵۰ میلیونه افغانۍ بودیجه ځانګړې شوې ده، البته هغه تخریبات چې د ورستیو اوربښتونو او سیلابونو له کبله رامنځته شوې، په پورته یاد شویو ارقامو کې شامل نه دي.

## پراختیایي پروژې :

ټولګټو وزارت شاوخوا (۵۰) پراختیایي پروژې لري، چې یو شمیر یې د حکومت او ځینې نورې بیا د نړۍوال بانک، د اسیا پراختیایي بانک او د سعودي پراختیایي بانک له لوري تمویلیږي، چې دا مهال یې کار نیمګړی پاته دی.

ټولګټو وزارت سره له دې چې کافي بودیجې یې په لاس کې نه لرله، خو بیا هم یې سربیره یې هڅه کړې تر څو هغه انکشافي پروژې چې رغنیز کار یې نیمګړی پاته دی او په تېره اداره که نه دي تکمیل شوې، تکمیل کړي.

له دې جملې د کابل – لوګر دویم لین سړک یادولی شو، چې د یادې پروژې د تکمیل په موخه ۱۵ میلیونه افغانۍ د وزارت له لوري شرکت ته تسلیم شوې دي، تر څو د یادې پروژې پاته رغنیز کار بشپړ کړي.

همدارنګه، د ابونصر فراهي سړک، چې د ایران هیواد له لوري رغول کیږي، قرارداد یې د افغانستان اسلامي امارت او دوست هیواد ایران ترمنځ تمدید شوی او د پروژې رغنیز کار عملاً په ساحه کې جریان لري.

### منابع بشري:

ټولګټو وزارت ور کسانو ته د کار سپارلو او د مسلکي او تخنیکي کادرونو د جذب په موخه، د افغانستان اسلامي امارت له بریا ورسته لومړی وزارت دی، چې ۱۵۰ تخنیکي او مسلکي بستونه یې د ادارې اصلاحاتو ادارې له لارې ازادې سیالۍ ته وسپارل تر څو له بریښنایي ازموینې ورسته په دغه وزارت کې د کارکوونکو په توګه استخدام شي، دا مهال د الیکترونیکي ازموینو لړۍ دوام لري او د تیر یوه کال په اوږدو کې ۹۰۳ تنه د دغه وزارت په خالي بستونو کې استخدام شوې دي.

### د ټولګټو وزارت د ملکیتونو راګرځول:

ټولګتو وزارت د هیوادوالو د ترانسپورتي ستونزو د هوارولو تر څنګ د دغه وزارت د غصب شویو ملکیتونو بیرته راګرځول هم د کار په لومړیتوبونو کې ګڼي، دغه وزارت د غصب شویو ځمکو د بیرته راګرځولو لړۍ د کابل ولایت څخه پیل کړې، چې د یاد ولایت د بګرامي ولسوالۍ په سهاک سیمه کې یې یوه قطعه ځمکه د ۱۵۳ جریبو په مساحت سره د غاصبینو له منګلو څخه خلاصه او وزارت ته راګرځول شوې، همدارنګه د کابل ښار په کمپنۍ سیمه کې د غاصبیونو له ولکې څخه د ۴۷ جریبو ځکمي د خلاصولو کار دوام لري او دا لړۍ د هیواد په نورو ولایتونو کې هم روانه ده، ترڅو د ټولګټو وزارت ټول غصب شوي ملکیتونه بیرته راوګرځول شي.

## پورته ګزارش په ټولیزه بڼه وړاندې شو، په دې اړه نور جزئیات ولایت په ولایت لیدلی شئ:

**لغمان:**

د لغمان ولایت د مرکز مهترلام ښار اړوند، د ده زیات ۱۰۰ متره پله ترمیم او بیارغونه، چې د بیارغونې چارې یې د څه باندې ۵,۴ میلیونه افغانیو په ارزښت له یوه خصوصي شرکت سره قرارداد شوي وې، او دا مهال یې کار سل سلنه بشپړ شوی دی.

د مهترلام – سرخکان سړک په اوږدو د ۱۵۵ مترو په اوږدوالي د سړک غاړې لښتې د څه باندې ۲۴۳ زره افغانیو په ارزښت ترمیم شوې دي.

د لغمان ولایت د ټولګټو ریاست د ماشینرۍ په واسطه ۱۲۵ کیلومتره سړک ترمیم او پاک کاري شوی دی.

د لغمان ولایت په بیلابیلو سیمو کې شاوخوا ۱۰۰ کیلومتره سړک د ټپي برخو داغګیري تر سره شوې ده.

**هلمند:**

د هلمند ولایت د ملنګ کاریز - ګرشک ولسوالۍ سړک د ۳٦ کیلومتره اوږد سړک او د ۱۸ پایو پُلګوټو د ۵,۹ میلیونه افغانیو په ارزښت ترمیم او بیارغول شوې دي.

د یاد ولایت د ټولګټو ریاست د تخنیکي پرسونل او ماشینرۍ پرمټ د څلور پایې پلونو، چې مجموعي اوږدوالی یې ۱۷۵ متره دی او د ۱۰۰ متره استنادي دیوال ترمیم او بیارغول شوي دي.

د ٦۰۱ شاهراه اړوند د سپینې کوټې پل او دوه پایو پُلګوټو ترمیم او همدارنګه د لشکرګاه – کندهار دوه لارې پورې د ۴۰ کیلومتره سړک ترمیم شوی دی.

د سنګین، نادعلي، ګرشک، دلارام، چاه انجیر او سنګین ولسوالیو مسیرونه د سیلابونو له پاتې شونو څخه پاک کاري شوي دي.

**نورستان:**

په نورستان کې د قراردادي شرکت لخوا د څه باندې ۷ سوه زره افغانیو په ارزښت د کوردر یوه پایه ۱۵ متره پُل ترمیم او د کامدیش ولسوالۍ اړوند د میردیش ٦۵۰ متره سړک ترمیم او بیارغول شوې دي.

د کونړ – نورستان عمومي ۸ کیلومتره سړک، چې د غرښوییدنې له امله بنده شوې وه پاک کاري او د ترافیکو پرمخ پرنیستل شوې.

د شرقي نورستان د کامدیش ولسوالۍ او برګمټال ولسوالۍ عمومي لار، چې ٦۵۰ متره اوږدوالي لري د سیلابونو له کبله بنده شوې وه، بیرته پاک کاري او پرانیستل شوه.

**کونړ:**

د شلتن او شیګل ولسوالیو تر منځ پر کونړ سیند د ۱۰ میلیونه ډالرو پر ارزښت د یوه پایه ۱۰۲ متره وسپنیز استحکامي پُل د جوړولو کار بشپړ شوی دی.

په پیچ دره ولسوالی کې د ۳٫۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د وېګرام ۳۵ متره استحکامي پُل د جوړولو کار بشپړ شوی دی.

د ناړی – بریکوټ ولسوالیو د سړک په اوږدو کې د څه باندې ۸،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷۰ متره استنادي دیوال رغنیز کار بشپړ شوی دی او همدارنګه د نورګل ولسوالی په زیړي بابا سیمه کې د ۸ میلیونه ډالرو په ارزښت د یوه پایه ۸۰ متره پُل د رغوني کار دوام لري.

د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د آسمار – غازي آباد، ۲۰ کیلومتره سړک د ترمیم چارې قرارداد شوي وې، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

د شتل - شیګل ولسوالیو تر منځ پر غځېدلي سړک د یوه پایه ۱۰۲ متره استحکامي پل نصب شوی دی.

د اسمار، غازي اباد او ناړی ولسوالیو د عمومي سړک جغل اندازې د ملي دفاع وزارت په همکاري د ۳۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت دوام لري.

د نورګل ولسوالی اړوند د زیړي بابا په سیمه کې د ۹ سوه زرو افغانیو په ارزښت یو پایه ۸۵ متره استحکامي پل جوړ شوی دی او همدارنګه د نرنګ، نورګل، څوکی او مروري ولسوالیو د ۹۴ کیلومتره سړک پاک کاري هم تر سره شوې ده.

**سمنګان:**

د سمنګان ولایت د ایبک – پلخمري لویې لارې په اوږدو کې د ٦٫۴ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۴۳ مترو په اوږدوالي سره د ۳ پایو پُلونو د ترمیم او بیارغونې کار قرارداد شوی وه، چې دا مهال یې چارې بشپړې شوي دي.

د خرم سارباغ – روی دو آب د ۸۰ کیلومتره سړک داغګیري او پرکاري شوی دی.

د ۲۹۰ زره افغانیو په ارزښت یوه پایه ۹۸ متره پُل ترمیم او بیارغول شوی دي.

د ټولګټو ریاست د شته ماشینری په واسطه د ۱۱۰ کیلومتره سړک ترمیم او بیارغونه.

د عمرخیل – دلخک ۱۰ کیلومتره سړک هموار کاري او جغل اندازې شوی دی.

او په دغه ولایت کې له رسوبي موادو څخه د شته ماشینری په واسطه ۲۰ کیلومتره بیلابیل سړکونه پاک کاري شوې دي.

**غزني:**

په آب بند، گیلان، زنخان او مقر ولسوالیو کې د ۹۰۵ کیلومتره سړک د جغل اندازي او هموارکاري چارې بشپړې شوې دي.

د غزني ولایت اړوند د کابل – کندهار لویې لارې شاوخوا ۲۲۷ ټیپې برخې داغګیري شوې دي.

د خواجه عمري ولسوالۍ اړوند په نوبرجه کلي کې د یوه پایه ۱۰ متره پل نږیدلي برخې سنګ کاري او پرکاري شوې دي.

**بامیان:**

له رسوبي مواد څخه د ۵ کیلومتره سړک د پاکولو کار د ټولګټو ریاست د شته ماشینرۍ په واسطه تر سره شوی دی.

د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د یکاولنګ، پنجاب، ورس او سیغان ولسیوالیو د سړکونه او همدارنګه د قوناق او ورس کوتلونه چې مجموعي اوږدوالی یې ۳۸۰ کیلومترو ته رسیږي د ژمي په موسم کې له وارو څخه پاک کاري شوې دي.

همدارنګه د یاد ولایت ۲۰۰ کیلومتره سړکونه د تخنیکي ټیمونو له لوري سروې شوي، چې ساتنې او څارنې ته اړتیا لري.

**ننګرهار:**

د ننګرهار – کونړ پر مسیر د کډې د ۲۰ متره پُل د لاندنۍ برخې فرش ترمیم او د کابل – جلال آباد په مسیر د سرخ آب پل لپاره د ۱۷۰ متره استنادي دیوال او بولډر ترمیم او بیارغونه د څه باندې ۴،۹ میلیونه افغانیو په ارزښت تر سره شوې دي.

د خوګیاڼو ولسوالۍ اړوند د کابل – جلال آباد دویم لین سړک د ۴۳ کیلومتره په اوږدوالی سره جغل اندازې او هموارکاري شوی دی.

د جلال اباد – کونړ پر مسیر یوه پایه پُل او د سرخرود ولسوالۍ پر مسیر د دوو پایو پُلګوټو د ترمیم او بیارغونې کار بشپړ شوی دی.

د تورخم بندر په صفرې نقطه کې د ۱۱۵۰ متره جغلي سړک او ۵ پایې پلګوټي رغول شوې دي.

د لعلپوري ولسوالۍ پارچارو کلي ته د ۲ کیلومتره اوږد جغلي سړک د جوړولو کار دوام لري.

د کابل – جلال آباد او سپین غر ولسوالۍ د سړک ترمیم او د سیلاب له پاتې شونو څخه پاک کاري شوي دی.

و همدارنګه د ټولګټو ریاست د ماشیرنۍ په واسطه له مملې باغ څخه تر حصارک ولسوالۍ پوري د ۴۸ کیلومتره سړک جغل اندازې او ۲۷ پایې پُلګوټي ترمیم شوې دي.

**بلخ:**

د بلخ ولایت د ټولګټو ریاست له شته ماشینرۍ او پرسونل څخه په ګټې اخیستنې سره د دغه ولایت د شورتیپه، چمتال او مارمل ولسوالۍ کې د ټولټال ۷۳ کیلومتره سړک ترمیم او هموار کاري کړی دی.

د بلخ ولایت د عمومي لویې لارې او اړوند ولسوالۍ د شاوخوا ۹۰۰ کیلومتر سړک څخه ساتنه او څارنه شوې ده.

همدارنګه د حیرتان بندر ۲۵ کیلومتره سړک او د مزارشریف – دره صوف ولسوالۍ ۵ کیلومتره سړک له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوي دي.

**تخار:**

د اشکمش – خواجه غار ۱۰ کیلومتره سړک او ۳۵ متره ګبیوني دیوال د څه باندې ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت له شرکت سره قراداد شوي، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

د بنګي – اشکمش – خواجه غار ولسوالیو ټولټال ۱۰ کیلومتره سړک ترمیم او جغل اندازي شوی دی.

د تالقانو – کشم، اوترنجي، فرخار،ورسج، خواجه غار او بنګي اشکمش ولسوالیو اړوند ۱۳ کیلومتره سړک له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوی دي.

د تالقان – کشم پر مسیر دوه معبرونه له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوې دي.

همدارنګه په دغه ولایت کې ۳ کیلومتره سړک له رسوبي موادو څخه او ۹۲ کیلومتره سړک له واورو څخه پاک کاري شوی دی.

**بادغیس:**

د قراردادي شرکت لخوا د قلع نو – قادس ٦ کیلومتره سړک رغونې کار بشړ شوی دی.

د بادغیس ولایت د ټولګټو ریاست د شته ماشینرۍ پرمټ د دغه ولایت د بالامرغاب – غورماچ، قلع نو – سنګ اتش، بالامرغاب – قروطو کوتل او دهن پاساب – بالامرغاب سړکونه چې ټولیز اوږدوالی یې ۸۹ کیلومترو ته رسیږي ترمیم او جغل اندازي شوي دي.

د قلعه نو – قادس پر مسیر د ۵ پایو پُلګوټو او استنادي ګبیوني دیوال د روغونې کار بشپړ شوی دی.

همدارنګه د یاد ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د سبزک کوتل ۱۰ کیلومتره سړک له واورو څخه پاک کاري شوی دی.



**بغلان:**

د بغلان ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د شته ماشینرۍ څخه په ګټې اخیستنې سره د دغه ولایت په دهنه غوري ولسوالۍ کې د یوه پایه ۲۰ متره پُلګوټی او د پلخمري - دوشي کله ګي سړک د شولډرنو چارې د قراردادي شرکت لخوا د څه باندې ۲٦۸ زره افغانیو په ارزښت بشپړې شوې دی.

د دوشي، بغلان مرکزي، پلخمري - خنجان او دهن پیار مسیرونه له د سیلابونو له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوې دي.

په مرکز، اسکار کوتل او په دوه سړکه سیمه کې ۱۵ کیلومتره سړک ترمیم او هموار کاري شوی دی.

همدارنګه په یو شمیر نورو ولسوالیو کې د رسوبي موادو پاک کاري هم د یاد ولایت د ټولګټو ریاست د ماشینري لخوا تر سره شوې ده.

**پکتیکا:**

د دغه ولایت په سروضې ولسوالۍ کې یوه پایه ۲۰ متره پُل او په سروبي ولسوالۍ کې د مماتي په نوم ٦۰ متره پُل ترمیم شوی دی.

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه په سروضې او خوشامند ولسوالیو کې ۱۵ کیلومتره سړک ترمیم او هموار کاري شوی دی او د مټاخان، بند سردې، خیرکوټ او انګو آډې مسیرونه بیا پاک کاري شوې دي.

همدارنګه د یاد ولایت په بیلابیلو مسیرونو کې ۱۵۰ پایې پُلګوټي ترمیم شوي دي او ۳۹۲ کیلومتره سړک له واورو څخه پاک کاري شوي دي.

**سرپل:**

د سرپل - فاریاب عمومي سړک چې ۴۵ کیلومتره اوږدوالی لري ترمیم او جغل اندازې شوی دي.

له کورک مغول څخه تر خانقا ملکي پورې ٦,۷ کیلومتره سړک د ۱۸۷۱۰٦ ډالرو په ارزښت یې د جغل اندازي کار بشپړ شوی دی.

د سرپل ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د صیاد ولسوالۍ له ګردنه - د کمي بازار تر مکتب پورې او له بلغي دوه لاري څخه د کوهستاناتو ولسوالۍ تر لغمان کلي پورې غځېدلی سړک ترمیم او جغل اندازي شوي دی.

همدارنګه د کوهستان ولسوالۍ له علف سفید سیمې څخه د کوهستان ولسوالۍ تر مرکز پورې د ۸۰ کیلومتره تخریب شوې سړک ترمیم او جغل اندازي کار تر سره شوی دی.

**اروزگان:**

د خه باندې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د قراردادي شرکت لخوا د ۲۳ پایو پلچکونه ترمیم او بیارغول شوې دي.

د یو پایه ۱۰۰ متره پل، ۲۳ پایو پُلگوټو، د وانو ۱۰۰ متره پل د استنادي دیوال ترمیم او د دهراود ولسوالی د ۱۵۰ متره جویچو د پاکولو کار بشپړ شوی دي.

د اروزگان د ترینکوټ – دهراود، ترینکوټ – کندهار، ترینکوټ – چورې، ترینکوټ چارچینو ۱۲۳ کیلومتره سړک پاک کاري شوی دی.

دغه راز په چوره ولسوالی کې یوه پایه ٦ متره پلچک ترمیم او بیارغول شوی دی.

**پنجشیر:**

د قراردادي شرکت لخوا د دو آب گولایي کټ او د سړک پراخول، د خه باندې ۴۸۸ زره افغانیو په ارزښت تر سره شو.

د پنجشیر – دو آب سړک تحکیمول.

د پنجشیر ولایت د عمومي سړک داغگیري چارې پیل شوې دي، چې دا مهال یې کار جریان لري.

د حصه اول – پریان ولسوالی پورې د غځېدلي سړک د تحکمولو کار جریان لري.

د پریان – خنج ولسوالی د تحکمیولو کار جریان لري.

د شتل – عنابه ۱۵ کیلومتره سړک د ساتنې او څارنې چارې جریان لري.

له عنابه ولسوالی څخه تر رخه ولسوالی پورې د ۲۰ کیلومتره سړک ساتنه او څارنه تر سره کول.

د رخه – بازارک ۱۸ کیلومتره سړک د ساتنې او څآرنې چارې دوام لري.

له بازارک څخه تر دو آبي پورې د ۱۵ کیلومتره سړک څخه ساتنه او څارنه ترسره کول.

د دوب – ابشار ولسوالی پورې د ۲۰ کیلومتره سړک څخه ساتنه او څارنه تر سره کول.

د دوآب – خنج ولسوالی د ۱۸ کیلومتره سړک څخه ساتنه او څارنه تر سره کول.

د پنجشیر ولایت د ټولگټو ریاست د پرسونل او ماشینرۍ په واسطه د دغه ولایت اړوند د ۱۲۰ کیلومتره سړک پاک کاري، ترمیم او حفظ مراقبت.

د رخه ولسوالی په درخیل سیمه کې د یوه پایه استحکامي پل ترمیمول.

د ژمي په موسم کې د یاد ولایت د شتل – دو آبي دره، دو آبي – بام وردا او دوبي څخه تر شالزرو پل پورې په ټولیز ډول د ۱۷۸ کیلومتره سړک پاک کاري کول.

## زابل:

۱ـ د زابل ولایت اړوند د کابل – کندهار لويې لارې د ٦٥ کیلومتره سړک د میلینګ کاري کار د قراردادي شرکت لخوا د څه باندې ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت تر سره شوی دی.

۲ـ د قلات – شینکي، سیوري ولسوالۍ او کابل کندهار سړک چې ټولیز اوږدوالی یې ۲۰ کیلومتره کیږي د داغګیري او ترمیم چارې یې د څه باندې ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت، د قراردادي شرکت لخوا تر سره شوې دي.

۳ـ د ۱۵۵ مترو په اوږدوالي سره د ۵ پایو پلونو ترمیم، د څه باندې ۱۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ترسره شوی دی.

۴ـ د څه باندې ۲,۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د شینکۍ ولسوالۍ پر مسیر یو ۱۰۰ متره معبر ترمیم شوی دی.

۵ـ او همدارنګه د دغه ولایت د ټولګټو ریاست د پرسونل په هڅو د کابل – کندهار لویي لارې په اوږدو کې د ۱۸۰ متره سړک او ګڼو پلچکونو د ترمیم او جغل اندازي کار تر سره شوی دی.

## لوګر:

د کابل – لوګر سړک د ۲۸ کیلومتره سړک د ټپي برخو د ترمیم او پنه کاري چارې تر سره شوې دي.

د برکي برک له څلور لارې څخه تر پاد خواب روغني پورې غځېدلی سړک جغل اندازې او ترمیم شوی دي.

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه د کابل – ګردیز، د برکي برک ولسوالۍ او څرخ ولسوالیو ۱۰ کیلومتره سړکونه له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوي دي.

د کابل – ګردیز، مرکز – څرخ، مرکز – برکي برک، خوشي – ازرې، مرکز – خروار او څرخ – خروار ولسوالیو ۲٦۰ کیلومتره غځیدلي سړکونه له واورو څخه پاک کاري شوي دي.

## جوزجان:

د ټولګټو ریاست لخوا د شبرغان – مزارشریف او شبرغان – آقچه ولسوالۍ اسفالټ ۲۳۷ کیلومتره سړک ترمیم او پینه کاري شوی دی.

د شبرغان – مزارشریف، شبرغان اقچه ولسوالۍ سړک او د شبرغان – سرپل پر مسیر یوه پایه پلګوټی هم ترمیم شوی دی.

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ پر مټ د شبرغان – سرپل ۱۲٦ متره مربع سړک او د شبرغان – قوشتپه ۱۰۰۰ متره سړک ترمیم او جغل اندازي شوی دی همدارنګه د شبرغان په سپل سیمه کې هم یوه پایه پُلګوټی ترمیم شوی دی.

**بدخشان:**

د قراردادي شرکت لخوا په سبزي بهار او قمره کمر سیمو کې د ۲۰۲ متره سړک د تحکیم کاري پروژه، د ٦۹۰ زره افغانیو په ارزښت تر سره شوې ده.

د ۱,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د خاش ولسوالی ۲۱ کیلومتره سړک ترمیم شوی دی همدارنگه په راغ ولسوالی کې ۱۳ کیلومتره نوی سړک احداث شوی دی.

د ۳۳,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د درایم ولسوالی ٦۵ کیلومتره سړک د احداث چارې تر سره شوې دي.

د کشم – فیض اباد، فیض اباد – بهارک او د شهر بزرگ ولسوالی سړک چې ټولیز اوږدوالی یې ۲۱۰ کیلومترو ته رسیږي د ولایتي ریاست د ماشینری په واسطه له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوي دي.

**نیمروز:**

د زرنج – دلارام ۱۱ کیلومتره لویه لار او د کمال خان بند پر مسیر د چهار برجک ولسوالی یو کیلومتره سړک له شگو او ریگونو څه پاک کاري شوي دي.

همدارنگه په یاد ولایت کې ۲٦۹ کیلومتره سړکونه په راتلونکي د جوړولو په موخه سروې شوې دي.

**کاپیسا:**

د جبل السراج – سروبي پر مسیر د ۴,۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پایې ۴۴ متره پل د ترمیم کار بشپړ شوی دی.

د جبل السراج - سروبي پر مسیر د نجراب ولسوالی اړوند ۴۴ کیلومتره سړک ترمیم شوی دي.

د جبل سراج – سروبي پر مسیر د ۴ پایو پلگوټو ترمیم او بیاروغونې کار بشپړ شوی دی.

د جبل السراج – سروبي ولسوالی د سړک په اوږدو کې د ۴ پایو پُلگوټي ترمیم او بیارغول شوې دي.

**فاریاب:**

د فاریاب ولایت د ټولگټو ریاست لخوا د دغه ولایت د میمنه – شرین تگاب ولسوالی اسفالټ سړک ترمیم او د نمبر یو او نمبر دوه شاهراه د وسپنیزو کټارې ترمیم شوې دي.

د پشتون کوټ ولسوالی د مومن اباد – قهنه قلعه ۵ کیلومتره سړک جغل اندازې شوی دی.

د څه باندې ۱,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د میمنې – قیصار سړک پر مسیر د ظهور او چیچکتوی په سیمه کې د ۵۰ متره استنادي دیوال کار تکمیل شوی دی.

د میمنې – شرین تگاب د ۵۰ کیلومتره سړک ترمیم شوی دی او همدارنگه په پشتون کوټ ولسوالی کې ۴ کیلومتره سړک هم احداث شوی دی.

دغه راز د دهندره – گرزیوان ۳۰ کیلومتره سړک احداث.

## خوست:

د قراردادي شرکت لخوا د دوه منده، سپېري، اسماعیل مندوزی ولسوالیو کې د ۱۵ کیلومتره سړک او ۱۰۰ متره پُل د څه باندې ۵،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ترمیم شوي دي.

د سپېري، قلندرخیل، موسی خیل او ځاځي میدان ولسوالیو ٦١ کیلومتره سړک له روسوبي موادو څخه پاک کاري شوی دی.

د خوست ولایت د ٦٨ کیلومتره سړکونو څخه دوامداره ساتنه او څارنه شوې ده.

## کابل:

د څه باندې ۴۸ میلیونه افغانیو په ارزښت، د کابل – میدان ښار لویې لارې اړوند د کابل ښار له کمپنۍ څخه تر قلعه حیدر سیمې پورې ۸ کیلومتره سړک اساسي ډول ترمیم او بیاورغول شو.

د کابل ښار په ارغندی څوک کې ۱۵۰ متر سړک په اسفالټ ډول او ۱۰ کیلومتره شولډرونه بیارغول شوې دي.

د کبل – لوګر ۲۳ کیلومتره سړک ټپي برخې چې ترافیکي جریان یې له خنډ سره مخ کړی وه، پنه کاري او ترمیم شوې دي.

د کمپنۍ پله لپاره د ٦٠ مترو په اوږدوالي سره د وینګ وال او فرش رغنیز کار بشپړول.

## فراه:

د پشت رود – فراه سړک پر مسیر د ۴ پایو پُلګوټو ترمیم، د څه باندې ۸۰۰ زره افغانیو په ارزښت تر سره شوی دی.

د بکواه ولسوالۍ ۱۰ کیلومتره سړک ترمیم د څه باندې ۹۰ زره افغانیو په ارزښت تر سره شوی دی.

د پرچمن د ۸۰ کیلومتره سړک واورې د څه باندې ۷۱۰ زره افغانیو په ارزښت تر سره شوې دي.

د فراه – فراه رود سړک پر مسیر د ۵ پایو پلګوټو او د فراه د حلقوي سړک پر مسیر د ۵ پایو پلګوټي ترمیم او بیارغول شوې دي همدارنګه د باغ پل پر مسیر یوه پایه پلګوټی رغول شوی دی.

## کندوز:

د شیرخان بندر په بازارک سیمه کې یوه پایه پُلګوټي د څه باندې ۳۰۰ زره افغانیو په ارزښت ترمم شوی دی.

په علي اباد او خان اباد ولسوالیو کې د معبرونو ترمیم، د څه باندې ۴۰۰ زره افغانیو په ارزښت.

**میدان وردګ:**

د کابل – کندهار لویې لارې د ۹۰ کیلومتره ویجاړې شویو برخو پرکاري او هموار کاري شوې دي.

د کابل – کندهار لویې لارې د ۷ کیلومتره اسفالټ سړک ترمیم او داغګیري کار تر سره شوی دی.

د جلګې ولسوالۍ د ۲٦ کیلومتره سړک هموار کاري او جغل اندازې تر سره شوې ده.

د کابل – کندهار لویې لارې پرمسیر د میدان وردګو ولایت اړوند په دراني سیمه کې ۵۰۰ متره خامه سړک هموار کاري او جغل اندازې شوی دی.

د جلریز ولسوالۍ په سنګلاخ دره کې ۳ کیلومتره سړک هموار او جغل اندازې شوی دي.

د سید اباد ولسوالۍ د حسن بیک درې ١٦ کیلومتره سړک، د چینار درې ۷ کیلومتره سړک، په اونخي دره کې یو کیلو متر سړک جغل اندازې او هموار کاري شوې دي.

د څه باندې ۳ سوه زره افغانیو په ارزښت د دایمیرداد – چک ۱۲ کیلومتره سړک ترمیم او بیارغول شوی دی.

**پکتیا:**

د څه باندې ۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د کابل – ګردیز سړک په مسیر د تېرې کوتل په سیمه کې د ۲۵۵ متره اوږد ګبیوني دیوال جوړ شوی دی.

د ګردیز – زرمت ولسوالۍ ۱۴ کیلومتره سړک د هموار کاري او جغل اندازې کار بشپړ شوی دی.

د ګردیز – زرمت سړک پر او ګردیز – کابل لویې لارې پر مسیر ۴ پلګوټي ترمیم شوې دي او ګڼ شمیر پلونه او پلګوټي د سیلاب له رسوبي موادو څخه پاک شوې دي.

**د سالنګونو د ساتنې او څارنې ریاست:**

د ټولګټو وزارت د سالنګونو د ساتنې او څارنې ریاست لخوا د اسلامي امارت له بریا تر دا مهاله لاندې کړنې تر سره شوې دي:

۱ـ د څه باندې ۵۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د شمالي او جنوبي سالنګ د ۳۰ کیلومتره سړک د ترمیم چارې بشپړې شوې دي.

۲ـ د څه باندې ۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د بابه مردان پل ترمیم شوی دی.

۳ـ د سالنګونو د ساتني او څارني ریاست د ماشینرۍ په واسطه ۱۰ کیلومتره سړک ترمیم شوی دی.

۴ـ د تونل په دننه کې تخنیکي او د لایټونو د تنویر سیستم فعالوله شوی دی.

۵ـ د ژمي په موسم کې د واورې پاکولو د عملیاتو ترسره کول او همدارنګه له سیلابي موادو څخه د سړک پاکول.

Chief of Staff
Public Works
of Afghanistan

**دایکنډي:**

په دایکنډي ولایت کې د ساتنې او خارنې په پروژو سربیره د ژمي په موسم کې د شاوخوا ۴٦۰ کیلومتره سړکونه د څه باندې ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت له واور څخه پاک کاري شوې دي.

**پروان:**

د هوفیان شریف ۱,۵ کیلومتره سړک هموار او جغل اندازې شوی دی.

د پل متک – بامیان، شینواري او شیخ علي ولسوالیو مسیر چې شاوخوا ۱۲۰ کیلومتره اوږدوالی لري له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوی دی.

**غور:**

د غور – هرات لویې لارې اړوند د دره جام – کمنج پورې ۴۵ کیلومتره سړک ترمیم او پاک کاري شوی دی.

د غور – هرات لویې لارې اړوند د کمنج بازار څخه تر پای کوتل پورې ۱۵ کیلومتره سړک ترمیم او پاک کاري شوی دی.

د فیروزکوه – چهارسده – فاریاب پر مسیر د دره کرگوش ۲۰ کیلومتره سړک ترمیم او بیارول شوی دی.

د غور ولایت د لوړو زده کړو موسیسه پر لور د یو کیلومتر سړک رغول .

**هرات:**

د هرات – تور غونډۍ پر مسیر د ده شیخ پل د وایو ترمیم او بیارغونه.

د هرات – اسلام قلعه او هرات – تور غونډۍ د ۲۰ کیلومتره سړک داغګیري او ترمیمول.

د کندهار – هرات پر مسیر ۱۸ پایې پُلګوټي په اساسي ډول ترمیم شوې دي او همدارنګه د یادې لویې لارې داغګیرۍ هم ترسره شوې.

د رباط سنګي او کشک کهنه ولسوالیو د ۴۵ کیلومتره سړک جغل اندازې او هموارکاري.

د یاد ولایت اړوند د ټولو ولسوالیو سړکونو په اضطراري ډول پاک کاري او ترمیمول.